مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۵/۰۸

«بډايه پښتو»

څومره بډايه؟

ښاغلي صديق الله ارمان ته د دې کتاب د ليکلو مبارکي وايم. د کتاب عنوان (بډايه پښتو) مې چې وليد، ګومان مې وکړ چې د پښتو د بډايتوب په اړه بحث به په کې وي. فکر مې وکړ چې ممکن پښتو فولکلور يې څېړلی وي ځکه چې پښتو که بډايه وي نو په خپل فولکلور به بډايه وي خو په دې کتاب کې خبرې نوري وي: د ګرامر ځينې مبحثونه، د ليکدود او املا ځينې مسألې او څو ژوندليکونه.

ځوک چې کتاب ليکي، له ځانه بايد وپوښتي چې کتاب چا ته ليکي او ولې يې ليکي. دغه پوښتنې د کتاب محتوا او د ليکلو بڼه ټاکي. ما له ښاغلي ارمان څخه پوښتنه وکړه چې «بډايه پښتو» يې چا ته ليکلې ده. ويې ويل چې دا يې د خپلو شاګردانو لپاره ليکلې ده. کېدای شي هغه دا کتاب د خپلو شاګردانو له اړتيا سره سم ليکلی وي او هغه موضوعات يې د ليکلو لپاره غوره کړي وي چې شاګردانو ته يې مهم دي. که داسې نه وای نو ولې به يې هغه کتاب چې پيل يې په ګرامر شوی، د پښتو ژبې او ادب د پنځو ستورو په ژوندليکونو پای ته رسولی وای.

په دې کتاب کې ځينې شيان زما لپاره نوي وو، لکه:

۱. **د جنسيت په لحاظ د الفبا د تورو ډلبندي:** ځينې پښتو توري نارينه دي لکه ج، ح، ځ، د، ډ، س ، ښ، ش ... او ځينې يې ښځينه لکه ب، ت، ټ، چ، څ، خ، د، ړ، ز ...

۲. **د)و(او)ۇ(تر منځ توپيرونه:** يو (۱)، يادونه (د ياد جمع)، ډول (د موسيقۍ آله) به په (و) ليکو او يۇ (د جمع متکلم لپاره مرستيال فعل)، يادۇنه (يادول)، او ډۇل (بڼه) بايد په (ۇ) وليکو.

۳. **يوازې، يواځې:** يوازې د انګليسي ژبې د (only)يا د عربي ژبې د فقط پۀ معنا کارول کېږي او يواځې (Alone) د تنها او ګوښې پۀ معنا کارول کېږي.

۴. **ای، اې:** «ای» د نارينه نومونو لپاره کارول کېږي. لکه: ای، زما افغانستانه! ای، خدايه! او «اې» د ښځينه نومونو لپاره کارول کېږي. لکه: اې، جنی!

ما دغه خبرې په بل کتاب کې نه دي لوستي او ګومان کوم چې دا به د ليکوال خپل نظر وي. په داسې کتاب کې چې اکثره موضوعات يې له نورو کتابونو څخه اخيستل شوي وي، که ليکوال خپل نظر ـ هغه هم ډېر متفاوت نظر ـ څرګندوي، بايد ووايي چې دا زما نظر يا وړانديز دی. په تېره بيا کله چې کتاب د درسي يا ممد درسي کتاب په توګه ليکو، خپلې خبرې له منل شويو واقعيتونو او د نورو پوهانو له نظرونو سره بايد ګډ نه کړو.

ليکوال وايي چې کله د کلمې په پای کې (ه) د زور غږ راوښيي، په همدې بڼه به يې ليکو او که د زورکي غږ ولرې (ۀ) بايد وليکو. دا نظر منطقي دی او په تېره بيا له هغو کسانو سره د پښتو متن په سم لوستلو کې مرسته کوي چې پښتو د دوهمې ژبې په حيث زده کوي.

د هرې موضوع په اړه چې کتاب ليکو، معلومات مو بايد سم راخيستي وي او ناسم معلومات چا ته ورنه کړو. په دې کتاب کې ځينې خبرې کره نه دي. لاندې به يې نمونې او په اړه يې زما تبصرې ولولئ:

- **دا لاندې ځلور توري چې د درې ژبې لپاره خاص توري دي، د پښتو او درې ژبې ترمنځ پۀ ګډه کارول کېږي؛ خو پۀ عربي ژبه کې نشته (پ – چ – ګ –ژ).**

(چ، پ، ژ، ګ) توري د درې ژبې خاص توري نه دي، بلکې دا توري په نورو ژبو کې هم شته. نه پوهېږم چې لومړی به چا دغه غلطه خبره کړې وي چې دا د فارسي خاص توري دي او بيا نورو په پټو سترګو تکرار کړې ده.

- **د)ه(او)ۀ(ترمنځ توپير پۀ وينګ (تلفظ) کې دی. موږ پرې د نارينه او ښځينه توپير کولای شو.**

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د)ه(او)ۀ(په بحث کې دا خبره سمه نه ده چې د نوم/ ضمير جنسيت به خامخا وربانديِ سهي کېږي ځکه چې اوبۀ، خولۀ ... په زورکي يا (ۀ) ختمېږي خو نارينه نومونه نه دي او تۀ داسې ضمير دی چې مذکر او مونث مخاطب دواړو ته کارول کېږي.

- **ماته: فعل دی، چې معنا يې نيمه يا توتې توتې ده. لکه: نن رانه پياله ماته شوه.**

«ماته» صفت دی، نه فعل؛ فعل يې «ماتېدل» دی. معنا يې هم نيمه نه ده.

- **يادوئنه: ځينې او ځنې دواړه عداد دي يؤ سربل دی او بل اوستربل دی دواړه پۀ يؤه جمله کې هم کارولٔ کيدای شي. لکه: ځينې سړي اوس لۀ ښاره ځنې راغلل.**

ځينې او ځنې عددونه نه دي. «ځينې» مبهم ضمير دی [پښتو غږپوهنه او ويپوهنه، پوهنوال محمد صابر خويشکی، ۶۶مخ] او سربل خو بېخي نه دی. که يوازې راشي ضمير دی او که تر نوم مخکې راشي نو بيا صفت دی. «ځنې» اداتي ضمير دی چې د «تری» او «ورځخه» مترادفه معنا لري [پښتو پښويه، پوهاند ډاکټر مجاور احمد زيار، ۱۲۲ مخ]

- **خپلواک غږ پۀ کلمه کې پۀ خپله نه اداء کېږي يعنې ساکن وي، خو د خپلواک غږ څخه مخکې غږ ته يؤ ډول حرکت ورکوي.**

که خپلواک غږونه ((Vowels ادا نه شي نو کلمې بېخي ويل کېږي نه.

د «په» او «پر» تر منځ د توپير په برخه کې ليکوال د «پر» د کارولو يوازې يو مورد راوړی دی: "پر هغه مهال کارولٔ کېږي، کله چې يؤ شی د بل د پاسه وي. لکه: احمد پر تخت پروت دی." حال دا چې د کارولو نور ځايونه هم لري، مثلاً: که چې د وينا يا ليکلو موضوع يادوو «پر ګرامر يې کتاب ليکلی دی/ د سولې پر مذاکراتو به خبرې وکړو.»

ځوک چې د ګرامر او معياري ژبې په اړه څه ليکي، نو ورته بويه چې پخپله هم معياري او سمه ژبه وکاروي. په دې کتاب کې ځينې جملې د فارسي جملو جوړښت لري او د فارسي جملو ټکي په ټکي ترجمې دي، لکه «د علمي مطالعې څخه مطلب د يو منطقي طرزالعمل لۀ تطبيق څخه عبارت دی.» دا جمله په سمه پښتو داسې ليکل کېږي: «د علمي مطالعې مطلب د منطقي طرزالعمل (کړنلارې) تطبيق دی.» همدارنګه د فارسي ژبې په تقليد، په ځينو جملو کې بې ځايه «يو/ يوه» راغلي دي، لکه دغه جملې: «پۀ دې توګه معاصر ګرامر ليکونکي د داسې ګرامر پۀ طرحه لاس پورې کړی دی، چې هغه د ژبې د عملیې **يوه** بشپړه منطقي ترشيح ده.»؛ «ګرامر د **يوې** ژبې ترتيب او جوړښت پۀ دې لاندې دريو سترو څانګو کې مطالعه کوي.» په دې بله جمله کې «لومړني» بې معنا ښکاري: «پوهاند ربښتين پۀ (۱۳۱۸ ل کال) د پښتو ټولنې پۀ **لومړني** غږيتوب منل شوی دی.»

د کتاب په پای کې د پنځو ستورو ژوندليکونه هم په کليشهيي او بې خونده بڼه راغلي دي. د هر چا ژوندليک داسې پيل شوی دی: «... د ... زوی په ... کال په .... کې زېږېدلی دی.» او د آثارو د نومونو په يادولو يې ختم شوی دی. که د سلو کسانو بيوګرافی ليکو، په سلو بڼو يې بايد وليکو. پيل يې بايد د هغه د ژوند له کومې مهمې يا په زړه پورې پېښې، جالبې خبرې، عجيبه کار ... سره وکړو او د کيسې غوندې تلوسه او خوند په کې واچوو.

په دې هيله چې د ښو کتابونو په ليکلو سره پښتو ژبه په ربښتيا بډايه کړو.

محب الله زغم

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ